


# د ټولګټو وزارت د ۱۴۰۳ هـ.ش. کال
# د وروستیو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د ټولګټو وزارت د ۱۴۰۳ هـ.ش. کال راپور

ټولګټو وزارت یو له مهمو او سکتوري وزارتونو څخه دی، چې د هېواد د سړکونو او اوسپنیزې کرښې د رغونې، بیارغونې، ترمیم، ساتنې او څارنې مسؤلیت پر غاړه لري، دغه وزارت غواړي، په افغانستان کې د سړکونو او اوسپنیزې کرښې خوندي، اغېزمنه او ګټوره شبکه رامنځته کړي، ترڅو سیمه ییزې لویې لارې، ملي لویې لارې، ولایتي سړکونه، اوسپنیزې کرښې، پلونه او پلګوتې د هېوادوالو د هوسا تګ-راتګ په موخه ورغوي.



# د ټولګټو وزارت مهمې لاسته راوړنې

ټولګټو وزارت د سوداګریزو او کرنیزو توکو د خوندي او چټک لیږد-رالیږد او د هېوادوالو د هوسا تګ-راتګ په موخه د شاوخوا (۸۳۰) کیلومتره سړکونو د ترمیم او بیارغونې چارې پیل کړې دي، چې د شاوخوا ( ۴۶۲) کیلومتره سړکونو، ٦ پایو پلونو او د زیات شمېر پُلګوټو د اساسي رغونې، بیارغونې او ترمیم چارې بشپړې شوې دي:

## کابل – کندهار لویه لاره

د ۱.۱.۱ ټولګټو وزارت تېرکال د کابل – کندهار لویې لارې د اساسي بیارغونې چارې پیل کړې وې، چې په اوږدو کې یې ټولټال د ۱۷۵٦پایو پُلګوټو او ۴۸ پایې لویو پلونو د ترمیم او بیارغونې کار هم شامل وو او دا مهال یې د څه باندې ۴۳۰ کیلومتره سړک د لومړۍ او دویمې طبقې د آسفالت اچونې کار بشپړ شوی دی او همدا رنګه د ځینو برخو د دریمې طبقې اسفالټ هم بشپړ شوی د پاته برخو د وروستۍ ( دریېمې طبقې) کار به هم په راتلونکې کال کې بشپړ شي.

## د سالنګونو لویه لاره

د ۱.۱.۱ د ټولګټو وزارت د سالنګونو لویې لارې د۸۰ کیلو متره سړک د اساسي بیارغونې کار سږ کال په دریو برخو کې پیل کړی و، چې دا مهال یې د روان کال د پلان شویو برخو کار بشپړ شوی دی.







## 3 د کندهار – ارزګان

د کندهار – ارزګان عمومي سړک چې ۱۰۸ کیلومتر اوږدوالی لري د لومړي لاټ چارې د ۴۴ سلنه فزیکي پرمختګ سره جریان لري، ترینکوټ – دهراوډ ۵۰ کیلومتره سړک، د دشت ارچي – کندز ۲۰ کیلومتره سړک او د کندهار- سپین بولدک د ۳۹.٦ کیلومتره سړک د رغونې چارې هم جریان لري.

## 4 جوماتونه

د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د حکم په اساس، ټولګټو وزارت د کابل - هرات لویې لارې اوږند د ۱۴ محرابه مسجدونو ودانیزې چارې چې له ډلې یې ٦ محرابه مسجدونه د کابل – کندهار پر مسیر او ۸ محرابه مسجدونه د کندهار – هرات پر مسیر له بېلابېلو ودانیزو شرکتونو سره د ۴٦٧٧٢٦٢١١ افغانیو په ارزښت قرارداد کړې وې، دامهال یې ودانیزې چارې په بیلا بیل فزیکي پرمخ تګ سره جریان لري.

## 5 د ګیزاب پل

دغه پل چې ۱۱۰.۹ متره اوږدوالی او ۹.۴ متره پلنوالی لري د اساسي بیارغونې چارې یې د ټولګټو وزارت لخوا له خصوصي سکتور سره قرارداد شوي وې، چې نږدې د ۸ میاشتو په موده کې یې کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

# د روان کال نوې پیل شوې پروژې:

## د قیصار- لامان حلقوي سړک د رغولو ترون لاسلیکول:


د قیصار- لامان حلقوي سړک، چې ۲۳۳ کیلومتره اوږدوالی لري؛ په پنځو برخو ویشل شوی دی، دا مهال يې د پنځمې برخې، چې ٦١ کیلومتره اوږدوالی لري، د ۲۵ کیلومتره سړک د رغونې چارې د څه باندې ۱.۴ میلیارده افغانیو په ارزښت د پروان ولایت د کرومایتو کان په بدل کې د نورزي کانفیدنس سړک جوړونې او ودانیز شرکت سره قرارداد کېږي او د قرارداد له مخې به يې عملي کار پیل شي. د یاد حلقوي سړک د لومړۍ او دویمې برخې، چې ۳۴ او ۴۸ کیلومتره اوږدوالی لري، د تیرې اداري پرمهال یې د رغونې چارې قرارداد شوې وې، خو اوسمهال يې کار متوقف دی. دغه راز د یاد سړک دوې نورې (دریمې او څلورمې) برخې، چې ۵۰ او ۴۰ کیلومتره اوږدوالی لري؛ د سروې او ډیزاین چارې ترسره شوې دي.

## د کابل – غزني دویم لین سړک:

ټولګټو وزارت د کابل – غزني لویې لارې دویم لین شاوخوا ۴۹ کیلو متره سړک د رغونې کار په دوو لاټو نو کې له خصوصي سکتور سره په تخمیني ډول د څه باندې ۳میلیارده افغانیو په ارزښت قرار داد کړی دی، چې دا مهال يې د دواړو برخو کار د ټولپلازا محصول په بدل کې پیل شوی او د دریو کلونو په موده کې به يې چارې بشپړې شي.

## د کابل - جلال آباد لویه لارې دویم لین سړک:

د کابل – جلال آباد لویې لارې د دویم لین سړک چې شاوخوا ۱۴۷ کیلومتره اوږدوالی لري، او له ډلې يې د ٦٥ کیلومتره سړک ۳۳ کیلومتره د ننګرهار ولایت له لوري او ۳۲ کیلومتره نوريې د کابل ولایت له لوري له وړاندې په کانکریټي ډول رغول شوی و او پاتې نور يې په دریو بېلابېلو سکشنونو تقسیم شوی چې لومړی سکشن يې ۲۲ کیلومتره اوږدوالی لري او دا مهال يې د اساسی رغونې کار جریان لري چې لګښت يې د ټولپلازا د محصول څخه ورکول کیږي.









4

## د هرات – چشت شریف سړک

د هرات – چشت شریف سړک چې ۳۰ کیلومتره اوږدوالی لري، د ترمیم او بیا رغونې چارې یې د څه باندې ۱.۵ میلیارده افغانیو په ارزښت د معدن په بدل کې جریان لري.

5

## دشت ارچي – کندز

د د دشت ارچي – کندز د پاته ۲۰ کیلو متره سړک در غونې کار د څه باندې ۴۹۸.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت جریان لري د دغې پروژې په عملي کیدو سره به د تخار ولایت اته گونه ولسوالۍ (کوکچې ته څیرمه) د کندز ولایت سره او له کندز ولایت څخه په تیریدو بلخ، سمنگان، بغلان او کابل ولایتونو سره وصل کیږي. د یاد سړک په بشپړیدو سره به د تخار ولایت د مرکزي ولسوالیو په گډون د دشت ارچي ولسوالۍ د اوسیدونکو ستونزې دېخوا په پرتله هوارې شي او د کرنیزو توکو په چټک انتقال کې به د پام وړ آسانتیاوې رامنځته شي.

6

## کندهار-سپین بولدک دویم لین سړک

د کندهار - سپن بولدک دوهم لین، دوهم لاټ د ۳۹.٦ کیلومتره سړک د رغونې چارې جریان لري، چې په اوږدو کې یې د ۲ پایې لویو پلونو، ۲ پایې پلگوټو او ۵۵۰ متره مکعبه سنگاري دېوالنو رغول هم شامل دي.







## 7 د کنړ ولایت د زیړي بابا پل

د زیړي بابا د زیړي بابا پل چې د یاد ولایت په سرکانو ولسوالۍ کې موقعیت لري، ترمیماتي چارې یې د شاوخوا ۴۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوي او د یو کال په موده کې به یې کار بشپړ شي.

## 8 د پشد پل

د پشد پل، چې د نرنگ او سرکانو ولسوالیو ترمنځ موقعیت لري د ترمیم او بیا رغونې چارې یې د شاوخوا ۱٦ میلیونه افغانیو په ارزښت قرارداد شوي دي چې کار به یې د شپږو میاشتو په موده کې بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## 9 د ملاعلي پل

د سمنگان ولایت ولایت اړوند په خرم او سارباغ ولسوالۍ کې د ملاعلي پُل، چې ۳٦ متره اوږد والی او ٦,۲ متره پلنوالی لري د بیا رغونې چارې یې د شاوخوا ۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت له خصوصی سکتورسره قرارداد شوې دي او جریان لري.





10

## د سپین خوړ پل

په ننگر هار ولایت کې د سپین خوړ د کتفوال چارې د څه باندې ۷,٦ میلیونه افغانیو په ارزښت جریان لري.

11

## د کندهار-هرات د اوسپنیزې کرښې ترونونه لاسلیکول:

د ا.ا.ا د ټولګټو سرپرست وزیر محترم الحاج ملا محمد عیسی ثاني د هرات-کندهار د (۷۳۷.۵) کیلومتره اوسپنیزې کرښې د تفصیلي ډیزاین اړوند (۵) ترونونه د شاوخوا (۲٦۴) میلیونه افغانیو په ارزښت له پنځو شرکتونه سره لاسلیک کړل، چې د (۸) میاشتو په موده کې به یې چارې بشپړې شي.


# ۱۲: د میدان وردگ-لوگر د نښلونکي سړک رغول

د ټولګټو وزارت د شاوخوا (۷۱۳) میلیونو افغانیو په ارزښت له دوو شرکتونو سره د میدان وردگ-لوگر د (۳۱.٦) کیلومتره نښلونکي سړک د رغولو تړونونه لاسلیک کړل.

د میدان وردگ-لوگر سړک دوې برخې او ټولټال (۳۱.٦) کیلومتره اوږدوالی لري او (۱۲۰) پُلګوټي پکې شامل دي؛ یاد سړک د میدان وردگ ولایت د (تنګي درې، قلعه امیر خخه پیل؛ د آلوزي، دوغ آباد، شولک، او بابوس) سیمو څخه په تیرېدو د لوگر ولایت له مرکز پُل علم سره نښلول کیږي، چې رغنیزې چارې به یې د (١٦) میاشتو په موده کې بشپړې شي.


لومړی برخه: ټولټال (۱۷.۴) کیلومتره اوږدوالی لري، چې د (۴۷۳۸۸۴۹۲۷) افغانیو په ارزښت یې رغنیزې چارې له ایچکو ساختماني شرکت سره قرارداد شوي دي.

دویمه برخه: ټولټال (۱۴.۲) کیلومتره اوږدوالی لري، چې د (۲۳۹۴۴۸۳۷۸) افغانیو په ارزښت یې رغنیزې چارې له تابش امید ساختماني او سړک جوړونې شرکت سره قرارداد شوي دي.



# سروې او ډیزاین

د ټولګټو وزارت له لوري سږ کال د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د څه باندې ۱۲۰۷.٦ کیلومتره سړکونو او د ۱۰۸٦ متره پلونو د ابتدايي مطالعاتو او امکان سنجۍ سروې ، تو پوګرافي سروې او د ډیزاین مراحل بشپړ شوي دي. مثلاً په بدخشان ولایت کې د واخان دهلیز ۳۲۳ کیلومتره سړک او په میدان وردګ، پروان او کابل ولایتونو کې د (جلریز- غوربند- پغمان ) نښلوونکو ۱۹۵ کیلومتره سړکونو د ابتدايي مطالعاتو او امکان سنجۍ سروې د یادولو وړ دي.




# ساتنه او څارنه

د ټولګټو وزارت لخوا د سړکونو د ساتنې د ساتنې او څارنې په برخه کې سږکال ۴۲ پروژې جریان لري، چې ۳۷ یې د تیر کال پاتې پروژې دي او د ۵ پروژو چارې یې په روان کال کې پیل شوې دي.

| ۱ | د پلخمري – دوشي عمومی سړک استنادي دیوال چې ۲۵۵ متره اوږدوالی لري د رغونې چارې یې د ۱۴.۳میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې دي. |
|---|---|
| ۲ | د پلخمري – دوشي سړک د تخریب شویو برخو ترمیم او پینه کارۍ چارې د ۲.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې دي. |
| ۳ | په هرات ولایت کې د پرروانه پل د ترمیم چارې د ٦.٨ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې دي. |

د یادونې وړ ده، چې د ټولګټو وزارت لخوا د سړکونو د ساتنې او څارنې په برخه کې سږکال ۴۲ پروژې جریان لري، چې ۳۷ یې د تیر کال پاتې پروژې دي او د ۵ پروژو چارې یې په روان کال کې پیل شوې دي او دغه راز  د سپن خوړ پل، پروانه پل او د زیړي بابا او پشد پلونه چې وړاندې یې معلومات یاد شوې دي د ساتنې او څارنې په نویو پروژو کې شامل دي.




# د سړکونو څخه د واورو پاکول

ټولګټو وزارت سړکال د ژمي په موسم کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې د څه باندې ۷۵۷۲ کیلومتره سړکونو څخه د واورې پاکولو پلان لري:

ټولګټو وزارت د روان ۱۴۰۳هـ.ش کال د ژمي په موسم کې په ۳۰۲ زیان منونکو سیموکې د سالنګونو او ماهیپر په ګډون د هیواد په ۲۸ ولایتونو کې د څه باندې ۷۵۷۲ کیلومتره سړکونو څخه د واورې پاکولو پلان لري.

د ۷۵۷۲ سړک له جملې څخه څه باندې ۴۵۴۲ کیلومتره سړکونه د ټولګټو وزارت د ولایتي ریاستونو له خوا پاک کاري کیږي او په ( غزني، بامیان، غور، دایکندي، بدخشان، پکتیا، نورستان، پنجشېر، پکتیکا، تخار، سرپل، لوګر، میدان وردګ او فراه) ولایتونو کې ۲۷۲۰ کیلومتره سړکونه چې د ډېرې واورې او زیان منونکو سیمو درلودونکې دي د ټولګټو وزارت د ولایتي ریاستونو د ماشینرۍ سربېره د خصوصي سکټور سره د یو منظم طرزالعمل له لارې قرارداد شوي دي، چې د سږ کال ژمي په جریان کې به له واورو څخه پاک کاري شي.






# اوسپنيزه کرښه

د ټولګټو وزارت د اوسپنيزې کرښې معينيت او ازبکستان د ريل پټلۍ اداري ترمنځ د حيرتان-مزارشريف مسير د ترميماتي چارو ټرون د شپږو مياشتو لپاره وغځېد. د ياد مسير قرارداد چې ټاکلې نېټه يې پای ته رسېدلې وه، خو د ځينو سټېشنونو ترميماتي چارې لا پاتې وې او په همدې موخه بياځلي وغځول شو؛ د يادې پروژې ترميماتي چارې تردې مهاله (۸۰) سلنه فزيکي پرمختګ لري.

د حيرتان-مزارشريف د اوسپنيزې کرښې اړوند نايب آباد سټېشن (څلورم-پورټ) د (۵۰) کيلومتره په اوږدوالي په بشپړ ډول فعال او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو، چې په فعالېدو سره به ځايي تجارانو ته لازمي آسانتياوې رامنځ ته شي، د ريلي انتقالاتو فاصله به رالنډه شي او د نفتي او غير نفتي توکو د تخليې ځايونه به مشخص شي، چې مخکې دواړه يوازې په حيرتان پورټ کې تخليه کېدل.

د خواف-هرات اوسپنيزې کرښې د څلورمې قطعې د لومړۍ برخې رغنيزې چارې د (۸۰) سلنه فزيکي پرمختګ په لرلو سره په چټکۍ سره جريان لري. ياده اوسپنيزه کرښه ټولټال (۴۳) کيلومتره اوږدوالی لري، چې د هرات ولايت په غوريان او زنده جان ولسواليو کې تيرېږي.

د ټولګټو وزارت د اوسپنيزې کرښې مرستيال محترم الحاج مولوي محمد اسحاق صاحبزاده له لورې د افغانستان-ازبيکستان-قرغيزستان-چين په غونډه کې د افغانستان او چين ترمنځ د څلور اړخيزه ريلي دهليز ټرون د يو کال لپاره وغځول شو.

د ټولګټو سرپرست وزير محترم الحاج ملا محمد عيسى ثاني د هرات-کندهار د (۷۳۷.۵) کيلومتره اوسپنيزې کرښې د تفصيلي ډيزاين اړوند (۵) ټرونونه د شاوخوا (۲۶۴) ميليونه افغانيو په ارزښت له پنځو شرکتونو سره لاسليک کړل، چې د (۸) مياشتو په موده کې به يې چارې بشپړې شي.

# انتقالات

د روان ۱۴۰۳ هـ.ش. کال له حمل میاشتې څخه تر جدي میاشتې پورې، چې ټولټال (۱۰) میاشتې کیږي؛ د اوسپنې پټلۍ د څلورو مسیرونو (حیرتان، آقینې، تورغونډۍ او خواف-هرات له لارې شاوخوا (۳.۵) میلیون مټریک ټنه انتقالات ترسره شوي دي.

